# The Role of Children's Literature in Ulus Magzine

Hafiz Rehmat Niazi

**Abstract**: Ulus Magazine, in the period of thirty years, has given Pashto language and literature all that I think no other magazine has been able to give. It has the place to Literary, political, social, societal, religious, moral, and many other topics. In variety of different topics the Ulus Magzine Quetta has also published Children's Literature which content is very less than other areas of literature. But more important is that it is a less focused matter. In this article, Children's Literature is thoroughly concentrated and in the light of various scholars a child's age, needs and literature is briefly analysed. In Ulus magzine, it is discussed and examined on the basis of research. It has deliberated the Children's Literature according to the aptitude of childhood.

د اولس مجلې په ریکارډ کښې په ځینو مجلو کښې یو سرلیك ``د بچیانو محفل" په نامه چاپ شوے دے چې په ضمن کښې ئې د ماشومانو ادب خپور شوے دے، په هم دغه ماشوم، کوچني، کوشني، کنکي او کمکي ټکي باندې بحث کول غواړم چې پوهان د دې ټکي په سایه کښې د یوې مخصوصې لهجې په عملي کولو زور اچوي:

دا یو حقیقت دے چې پښتون اولس ماشوم یا ماشومه و هغه کودك ته وائي چې د مور پۍ رودي چې خبره اوري خو په پوهېږي نه او نۀ خبره کولے شي، البته څۀ وخت چې دغه ماشوم د عمر و هغې مرحلې ته ورسېږي چې پۍ رودل پرېږدي، په ماته ژبه د مور له خوا ورښوولې بسم الله شریفه او کلیمه شریفه وئیل پېل کړي، پل واخلي . له نورو کوشنیانو سره رهي شي یا د ا، ب، ت، لوستل پېل کړي له هغه کال دوه پس په مکتب یا په سکول کښې واچول شي نو دغه د پرون ماشوم بیا کوشنے یا کوشنۍ بالۀ شي . د کوشنیوالي دغه عمر زما په اند له درې کلنۍ څخه تر لس کلنۍ پورې وي . د دغه عمر هلك یا نجلۍ په لومړنیو ټولګیو کښې او تر لس کلنۍ پورې په څلورم ټولګي کښې سبق وائي، د پنځم ټولګي وروسته بیا یو زده کوونکے کوشنے نۀ شي پاته د دې پس بیا د شریعت اسلامي له مخه هغه کوشنے بیا د کاکړانو په اصطلاح پلستے یا پلستکۍ بلله کېږي"[1, 38 pp37-38].

د پورتنۍ حوالې په رڼا کښې د ابو الخیر ځلاند یوه بله حواله هم را اخلو چې هلته بیا د ماشوم تعریف څنګه کوي دے لیکي:

"څهٔ وخت چې ماشوم وزېږي په لومړی مرحله کښې د هغهٔ پر شونډانو مسکا وي، پر څېره باندې ئې زړهٔ وړونکے معصوميت وي، هغه ماشوم د لمس حس لري، غرض پينځهٔ سره حسونه ئې موجود وي، د يوهٔ شي د بوئ محسوسولو حس ئې هم قائم وي، لنډه دا ګړده فطري خواص لري. البته له عقل او پوهې څخه بې برخې وي، هغه کودك په پېل کښې و هر څيز ته په اريانئ ګوري راګوري، په انسانانو، حيوانانو، په انسان دوستو، په انسان دښمنه سادارو او په داسې نورو شيانو کښې توپير نهٔ شي کولے"[1, pp22].

دلته په دواړو حوالو کښې څرګنده خبره ده چې ماشوم که پې روودي هم هغه ماشوم دے او که لږ وروسته تر دوو کالو پورې وي هم چې د لمس حس لري او نور حواس ئې برابرېږي په دې دواړو مرحلو کښې ماشوم ورته وائي، محقق يو وار ماشوم ته د کودك ټکے کارولے دے چې يو ځاے هم پښتانهٔ ماشوم ته کودك نهٔ وائي البته د قاموسونو په رڼا کښې وئيلے شو چې پښتانهٔ ماشوم ته کمکے، کوشنے، کوچنے، وړوکے، هلکے او په داسې نورو نومونو غږ کوي. لکه:

"ماشوم: کوچنے، کمکے، طفل، نانے. کوچنے: بچے، زوي.کمکے: کوچنے، ماشوم، طفل، نانے"[2, pp542-545]

دغسې په يوهٔ بل قاموس کښې راغلي دي:

"ماشوم: کوچنے هلك، ورکوټے هلك"[3, pp238].

د پورتنيو قاموسونو د لغاتو په رڼا کښې مونږ وينو چې د ماشوم، هلك، کوچني او کمکي ټولو تورو يوه معنا شوې ده. او د ځلاند صاحب د لفظ کوشني پر ځاے د شين پر ځاے چې راغلے دے او لفظ کوچنے ليکل شوے دے، چې عام پښتانهٔ کوچنے هم او کوشنے هم ورته وائي خو په معنا کښې هېڅ فرق نهٔ شته او نهٔ قاموسونو د دې وضاحت کړے دے چې ماشوم د دومره کالو وي، نهٔ دا شته چې ماشوم دي په دومره کالو کوشنے او وروسته په دومره کالونو پلستے شي . البته په لومړي قاموس کښې د کوچني معنا په بچي او زوي شوې ده، چې په اولس مجله کښې هم سرليك ``د بچيانو محفل" په نامه دے، خو دغه د بچي لفظ د پښتو نهٔ دے او ځاے په ځاے چې کوم څوك ماشوم ته زوي وائي دا هم د بچي د ټکي ژباړه ده، د اردو ژبې اثر دے، او دا د بعضې ماشوم دپاره کاربدلے شي د هر ماشوم دپاره نهٔ شي کاربدلے. خو ابوالخير ځلاند صاحب د کودك، ماشوم، کوشنے، کوچني يا پلستي د دې توجيهاتو او فرق دپاره هېڅ حواله نهٔ لري. دغه د ماشومتوب کلونه پروفېسر سيال کاکړ د ماشوم د کلونو په اعتبار معارفي کړي دي او د تورو قيد ئې هم ورسره لګولے دے لکه:

"د خپلې ليدنې کتنې او تجربې له مخې کوشنيان په عمومي توګه پر دوو ډلو وېشم، ځالاکه کوشنيان، پخ دماغه کوشنيان. ځالاکه کوشنيان له ذهني او جسمي پلوه روغ

رمتې وي، کولے شي چې تر پينځۀ کولنۍ پورې ژبه زده کړي، البته دغه ماشومان ځينې غږونه او ښ د پنځو کالو په عمر کښې په ښه توګه نۀ شي وئيلے... پخ دماغه کوشنيان مونږ و هغو ماشومانو ته وايو چې ذهناً او جسماً ناروغه وي او بېخي نۀ شي کولے چې تر پينځۀ کالنۍ پورې ژبه زده کاندي، اکثر وينو چې ناروغه ماشومان د پښتو غږونه تر ډېرو کالو پورې سم نۀ شي ادا کولے د ساري په توګه کور ته به کول، وندر ته به وندل، خرو ته به خلۀ وائي ... هرکله چې زمونږ کوشنيان پينځۀ کلنۍ ته رسېږي نو د پښتو ټوله غږونه، پرته له ځينو په ډېره ښۀ توګه تلفظ کولے شي... لومړۍ مرحله: په لومړۍ مرحله کښې يو کوشنے د خپل چاپېريال هر شي ته په ژوره کتنه ګوري، د پښتو غږونه ئې تر غوږ کېږي، د کال تر پايه پورې ځينې غږونه زده کاندي ... [لکه بابا، دادا، ماما، نانا] په لومړي کال کښې د الف، ب، ت، ن، و، او ميم غږونه زده کوي. دويمه مرحله: يو کوشنے چې د خپل ژوند دويمې مرحلې ته واوړي نو دويم کال يو لږ زيات غږونه زده کوي، د کوشنيانو په ژوند کښې دويم کال خورا دلچسپه او له خندا ډك وي، د عمر په دې رنګينه برخه کښې مونږ د خپلي کتني له رويه وئيلے شو چې ماشومان د پښتو زياتره غږونه د خپل ژوندانۀ په دويم کال کښې په ډېره ښه توګه زده کوي، لکه پ، ت، ج، چ، ژ، ش، غ، ل او ک . درېمه مرحله : څۀ وخت چې کوشنيان په درېم کال کښېوځي نو د وړو وړو جملو جوړولو پيل کوي. څلورمه مرحله: ماشومان د خپل عمر په دې مرحله کښې له خپل چاپېريال څخه يو زيات شمېر توري زده کوي او د خورا خوندورو جملو په جوړولو پيل وکړي، البته جملې ئې ګرائمري نيمګړتياوې لري . په دغه عمر کښې ماشومان ټ، ډ، ړ او ر زده کوي. پينځمه مرحله: څۀ وخت چې کوشنيان پينځۀ کالن شي نو مونږ د عمومي مشاهدې له رويه وئيلے شو چې دوي خپله ژبه بشپړوي، په دې مرحله کښې ماشومان خپل مافي الضمير په ډېره ښه توګه بيانولے شي، د ژوند په همدې برخه کښې زمونږ کوشنيان د ځ، څ، ڼ، س او ږ غږونه زده کوي"[4, pp33-35] .

پروفېسر سيال کاکړ هم د خپلې ليدنې او کتنې او د کور د مخصوصو کوچنيانو په اعتبار د ماشومانو عمرونه او د هغو د تورو تلفظ ادا کول د کلونو په اعتبار ښودلي دي، او دے په خپل کتاب کښې وائي هم چې:

"د ملالۍ او ميرويس له پستو ژبو :: مرتبه رساله شوه د کوشنيانو"[4, pp4]

په ماشومانو کښې د ذهن په اعتبار حتماً فرق وي، ځينې ماشومان په دوه کالني عمر کښې ډېره صفا پښتو وائي، د دوو کسانو په ليدلو د ټولو ماشومانو اطلاق کول زما خيال که غلطه نۀ وه نو سمه هم نۀ ده. د اروا پوهنې عالمانو د ماشومانو عمرونه او په هغو عمرونو کښې د دوپ

غوښتنې او کارونه ښودلي دي او د اروا پوهنې د عالمانو له رائې سره که څۀ هم د سيال کاکړ لومړی مرحله نزدې وي خو په نورو مرحلو کښې ئې ډېر توپير موجود دے د اروا پوهنې عالمان داسې وائي:

(1) له زېږون څخه تر درې کلنۍ پورې. (2) له درې څخه تر شپږ کلنۍ پورې. (3) له شپږ څخه تر دولس کلنۍ پورې. (4) له دولس څخه تر شپاړلس کلنۍ پورې. [د همدغو پوړتنيو مرحلو په عمر کښې د ماشوم ذهني استعداد هم بدلېږي را بدلېږي او د هغۀ غوښتنې هم بدلېږي را بدلېږي]. "له زېږون څخه تر درې کلنۍ پورې دوره: په دغه دوره کښې ماشوم خپل ژوند له ژړا او حرکتونو سره پېلوي، د چاپېريال له څيزونو سره د لمس له لارې اشنا کېږي، د حرکت او خوځښت قوه ورسره مله وي، خو د کوم کار کولو شيمه او توان نۀ لري. خو ځينې مهارتونه لکه د څېزونو نيول، کښېناستل، په لاره تګ او نور زده کوي.

له درې څخه تر شپږ کلنۍ پورې دوره: په دې دوره کښې د ماشومانو تجربې او د چاپېريال په اړه ئې معلومات ډېرېږي، د کونجکاوۍ حس ئې غښتلے کېږي، پوښتنه کول زده کوي، سلګونه او زرګونه پوښتنې ورته پيدا کېږي، خو ځوابولے ئې نۀ شي، په دغه دوره کښې ماشوم خپل ځان هم پېژني، خپل کړۀ وړۀ، فکر او حس پياوړے کوي... له لوبو سره د ماشومانو مينه پيدا کېږي.

له شپږ څخه تر دولس کلنۍ پورې دوره: دې دورې ته د ماشوم د جسمتي، فکري، عاطفي او رواني ودې دوره هم وئيل کېږي. چې له رسمي زده کړو څه پيلېږي، کوچنے ورسره له ماشومانه فکر کولو څخه د منطقي فکر کولو په لور درومي، له کورنۍ څخه په ټولنه کښې د ازاد ژوندانۀ په لور ګامونه اخلي، پوښتنې ئې له استدلال سره ملې وي، د منطقي فکر سره سره د انتقادي فکر په لور ګامونه اخلي.

له دولس څخه تر شپاړس کلنۍ پورې دوره: په دې پړاو کښې په انسان کښې جسمي، فکري او عاطفي بدلونه را پيدا کېږي، چې خپل عواطف کنټرولولے نۀ شي، خپل ځان نۀ پېژني، له مشرانو سره ئې چار چلند په ټکر بدلېږي، د ماشوم تجربې او فکر ئې د دې دورې د جسمي عاطفي او عقلي بدلونو ستونځې نۀ شي حل کولے، د مشرانو پر ځاے ورته خپل فکر ښۀ ښکاري ... خيال پرې ډېره غلبه کوي، د دې پړاؤ بل ستر بحران چې زلمے ورسره لاس او ګرېوان وي د بلوغ مرحلې را منځته کېدل دي"[5, pp9-10].

اوس چې د ماشوم عمر او له عمر سره سم د هغۀ غوښتنې په ګوته شوې نو د ماشومانو د ادب پوهانو په رڼا کښې ګورو چې د اولس مجلې د ماشومانو ادب د هغو له ذهني استعداد او صلاحيت سره سم ادبي ډګر ته راغلے دے او که د ماشومانو له ذهني سوئې ډېر لوړ يا کم يا برابر دے. د ماشومانو د ادب په اړه پوهان وائي:

"دا رقم شاعري يوازې هغه څوک کولے شي چې په کليو کښې لوئ شوي وي يعنې وړوکوالے ئې په خالص پښتني چاپېريال کښې تېر کړے وي، د کليو عاميانه پښتو ئې زده وي، د عامو خلګو په خوئ بوئ او ژوند ژواك خبر وي. دا رقم ښځې او

سړي چې د کليوال اولس په رسم او رواج او دود دستور خبر وي. هم داسې څوك ښهٔ سوچه پښتو ليکلے او وئيلے شي. د عوامو په ژبه پوهېږي، ژبه ئې خالصه وي، د نورو ژبو مثلاً انګلېسي، عربي، فارسي او اردو له ګډون څخه پاکه او سوچه وي"[1, pp43].

په دې کښې هيڅ شك نهٔ شته ئې محقق په پورتنۍ حواله کښې ګټورې خبرې کړې دي چې د ماشومانو د ادب په اړه تر ډېره حده د چا لارښووه کوي خو د عامو پښتنو په نسبت محقق په ليکل شوي کتاب کښې د کاکړو د سيمې د ماشومانو خيال ساتلے دے او په کتاب کښې ئې داسې کليمو ته هم ځاے ورکړے دے چې يواځې په کاکړۍ لهجه کښې استعمالېږي، لکه يو خو ئې راشه، راشي، ورشه، دا ټول ټکي په راسه، راسي، ورسي، ليکلي دي، دغسې ژبه ئې په زبه، ژړا ئې په زړا، لوئ شوے ئې په لوئ سوي، دا ډول ئې په دارکم، وائي ئې په ويايي، لار ئې په ليار، کښې ئې په کي، وژل ئې په وزل، پېژندل ئې په پېزندل ليکلي دي. له دې زما مقصد دا قطعاً نهٔ دے چې د کاکړۍ لهجې تورې دي نهٔ ليکي بلکې داسې ډېر توري شته چې هغه د پښتو نورې لهجې هم خپلوے شي او د پښتو د هرې لهجې برخه جوړېدے شي لکه ګړده، يوه پلا ، داسې توري بايد چې نور هم زيات پيدا شي خو داسې ټکي چې د لر او بر پښتنو ورباندې فيصله کړې وي چې په هرځهٔ کښې به هر څوك د خپلې لهجې خيال نهٔ ساتي بلکې د ليکلو ژبه بايد چې تر خپله وسه يوه شي. په دغه قاعده او قانون چې د ماشومانو ادب تخليق شي هغه به د جنوبي پښتونخوا، خېبر پښتونخوا، کراچۍ او افغانستان د ماشومانو دپاره د ګټې سوب وي. ځکه چې د جنوبي پښتونخوا په نسبت په خېبر پښتونخوا او افغانستان کښې د ماشومانو دپاره ډېر ادب تخليق شوے دے، مونږ بايد چې ماشومان د هغو له ژبو سره هم بلد کړو او چې ادبيات وائي دا وخت نو ماشومان دا صلاحيت لري چې د نورو سيمو په ټکو هم څهٔ نا څهٔ پوهېږي. باقي د جنوبي پښتونخوا په حواله چې ځلاند صاحب په ``زهٔ تنکۍ غوټۍ يمه" نومي کتاب کښې وائي چې په سپهلي سيمه کښې يواځې او يواځې پروفېسر سيال کاکړ مدظله العالي د کوشنيانو دپاره دوه آثار ليکلي دي چې يو ئې ``د کوشنيانو ادب" نومېږي او بل ئې ``د کوشنيانو ژبه" سرخط لري دا خبره هم د نور وضاحت دپاره ده چې د پروفېسر سيال کاکړ د ماشومانو دپاره نور کتابونه هم شته لکه ملي ادب، فولکلوري سوغات، انګۍ او داسې نور، خو تر سيال کاکړ له مخه په جنوبي پښتونخوا کښې د ماشومانو ادب پنځلس شل کاله له مخه تخليق شوے دے، د بېلګې په ډول دغه يوه نمونه ئې له پښتو مجلې وګورئ:

د مور اميده د پلار ارمانه ، پر مونږ تر ټولې نابودې ګرانه
هغه به ورځ وي چې ته زلمے شې ، خاوند د برېتو او مړنے شې
جار دي ادکه ستا تر خوبو سه ، للو للو سه للو للو سه

توره په لاس کښې په رښتيا اوسه ، د خپل پښتون ورور خدمت کښې اوسه
چې زمونږ ورشو کړې ته را ودانه ، غليم دي ستا وي ټول سرګردانه
چې بد دي غواړي مړ په ارو سه ، للو للو سه للو للو سه

د پښتون زوي ئې چې ډار و نۀ کړې ، د جنګ ډګر ته تلوار به ته کړې
د مورکۍ زويه! کرار ويدۀ سه ، خبرې ټولې په غوږ کي نسه
توريالے زوي ئې نو په خوبو سه ، للو للو سه للو للو سه [6, p442]

دغسې دا سلسله بيا په ګلستان مجله کښې پر مخ تللې ده، دغسې په پالنه، لمبه، سهار او نورو مجلو کښې د ماشومانو ادب ته توجه ورکړل شوې ده. ورپسې سيال کاکړ، صاحبزاده حميد الله، ابو الخير ځلاند، سيد عابد شاه عابد، عبد القدوس دراني، ولي محمد ولي او بارکوال مياخېل هم د کتابونو په بڼه کښې د ماشومانو ادب ته مخه کړې ده. خو اولس مجله هم د دغې لړۍ يوه اهمه نمونه ده چې د ځينو مخصوصو موضوعاتو غونډې په اولس مجله کښې هم د ماشومانو دپاره ادب ليکل شوے او چاپ شوے دے چې د اولس مجلې خپرندويه ادارې په باقاعده توګه د ماشومانو د اصلاح او ذهن تېزېدو دپاره وړې وړې قيصې، پوښتنې، ژورې خبرې او د شاعرۍ برخه چاپوله چې په پنځلسو مجلو کښې دغه غوره ادب چاپ شو بيا وروسته بېرته بند شو. په دغه ادب کښې ځينې داسې مواد شته چې هغه د ماشومانو د ذهني استعداد سره سم نۀ دي بلکې لويان کسان هم په تشريح کولو ورباندې پوهېږي، د مثال په ډول:

"زمونږ د هر عمل او د هر قسم محنت او مشقت فايده يو غير حکومت ته رسېده. زمونږ ګران خداے بخښلي قائد اعظم د قام دا بدحالي چرته زغملے شوه، چې مونږ دي په خپل وطن او په خپل کور کښې بې وسه د غلامۍ ژوند تېر کړو، د هغوي په ذهن کښې دا خبره هم وه چې که چرې دوي خپل ځان او خپل قام د غلامۍ د لعنت نه خلاص نۀ کړي نو زمونږ راتلونکي نسلونه به هم دغه شان د غلامۍ ژوند تېرولو باندې مجبور وي، او مونږ به هيچرې معاف نۀ کړي، دوي په يو وخت د انګرېزانو او د هندوانو مقابله شروع کړله"[7, p62].

په پورتنيو خبرو کښې دومره اهم موضوع چې د پاکستان د مطالعې برخه ده، ماشومان له ډېرو مسئلو سره مخامخ کوي، ماشومان په انګرېزانو، هندوانو او په هغه وخت کښې د حالاتو په خرابېدو څۀ پوهېږي. د دوي دپاره همدغه مضمون لږ په اسانو ټکو کښې يواځې د قائد اعظم په ژوند په کار واے، د هغۀ په سياسي کارنامو مجلس نۀ وۀ په کار. د پورتنۍ حوالې د محقق

اکثره مضامين چې سياست سره اړه لري ګران دي د ماشومانو د ذهن سره سم نۀ دے، بل مثال ئې وګورئ:

"حضرت خالد بن وليد رض ايرانيانو سره په جنګ کښې اخته وۀ، د دې دپاره روميانو خيال وکړ چې عرب په يو وخت د دوو لويو طاقتونو مقابله هېڅکله نۀ شي کولے دې دپاره هغوئ د شامي سرحدونو نه د خپل فوج ډېره برخه بېرته راغوښتله"[8, p61].

په دې کښې ماشومانو ته د ايرانيانو او روميانو په اړه او ورسره د شامي سرحدونو نه خپل فوځونه بېرته راغوښتل. دا ټولې داسې خبرې دي چې تر له مخه به ئې اورېدونکے له تاريخ سره اشنا وي او له دې تاريخ سره هغه څوك اشنا کېدے شي چې د لوئ عمر وي نۀ د ماشومتوبو په دور کښې څوك دومره معلومات لري او نۀ له ماشومانو سره په داسې انداز خبره کول چې د دوي په ذهن بوج وي، بلکې له ماشومانو سره داسې خبرې په کار دي چې په اسانه په خبره پوه شي او خبرې پسې اوږدې نۀ شي لکه:

"ابليس لعين ور نه تپوس وکړو چې تا هم څۀ کړي دي که نه؟، هغه ووئيل چې د نورو شيطانانو په مقابله کښې زما د کار هېڅ حېثيت نۀ شته، ما خو محض يو هلك مدرسې ته له تللو منع کړے دے. شيطان لعني د دې خبرې په اورېدو دومره خوشحال شو چې هغه شيطانګے ئې د ډېرې خوشحالۍ نه سينې سره ولګاوۀ"[8, p63].

په دغه حواله کښې د قيصې انداز ډېر اسان دے او ماشومان په اساني ورڅخه سبق اخستلے دے، له سکول او مدرسې په پاته کولو باندې د شيطان خوشحالي زياته څرګنده شوې ده، داسې قيصې چې ماشومان اوري نو له سکول او مدرسې د پاته کېدو په وخت ئې خامخا دا قيصه ذهن ته راځي، او د دوي ضمير دا فېصله ورکوي چې شيطان بايد په هېڅ صورت کښې خوشحال نۀ شي او چې شيطان دومره د ماشوم په پاتولو خوشحالي کوي نو حتماً په نتيجه کښې ئې دا راځي چې مدرسې او سکول ته تګ ډېره ګټه لري.

د بچيانو په محفل کښې چې کومه شاعري شامله ده هغه کټ مټ د هغو د ذهني استعداد سره سمه چاپ شوې ده او د دې شاعري شاعران د ماشومانو له فطرت سره تر ډېره حده اشنا دي. داسې ګرانې او ثقيلې کليمې او ژور احساسات او سره تېرې بېرې جملې چې د ماشومانو ذهنونو ته نۀ رسېږي يو مخ نۀ دي کارول شوي. د بېلګې په توګه دا نمونې وګورئ:

ته راته ګران ئې له هر چا وطنه ځان به قربان کړمه په تا وطنه!

په مونږ د وينو سور باران ورېږي که تندرونه له اسمان ورېږي

که د دښمن تبغ زما په ځان وربړي که افتونه د جهان وربړي
هر څۀ به تېر کړم ستا دپاره په خندا وطنه! ته راته ګران له هر چا وطنه![9, p53]

دغسې يو نظم د وطن تر سرليك لاندې چاپ شوے دے د نمونې دپاره ئې وګورئ:

دا زمونږ د ځان وطن ښکلے ګلستان وطن
دا باغ او بوستان وطن شو رشكِ جهان وطن
مونږ وطن ګټلے دے سر مو پرې شندلے دے
مونږ انګرېز شړلے دے زمونږ په زور وتلے دے
زۀ به ګلستان کړمه دا په مونږ ودان وطن
ښاد به خپل وطن کړمه خاورې به دښمن کړمه
دښت به شين چمن کړمه جوړ به ترې ګلشن کړمه
لوړ بې پر دنيا کړمه د خپل نام او نشان وطن
دا زمونږ د ځان وطن ښکلے پاکستان وطن[10, p45]

د ماشومانو دپاره له شاعرۍ سره سره څۀ داسې د ماشومانو د خندولو دپاره ټوکې هم ورکړل شوې دي چې په لنډو ټکو کښې راغلې دي او د خندا کولو دپاره ډېر څۀ په کښې دي، د مثال په توګه ئې نمونه وګورئ:

مور: (زوئ ته) نن ما دومره لوښي وينځلي دي چې لاسونه مې ډېر زيات پرې ستړي شوو.

زوئ: وينځلو دپاره خو دهوبيان ډېر دي تا ولې دا تکليف کړے دے.

زوئ: (پلار ته) ابا! دا بيزه ولې بکېږي؟.

پلار: قصائي ئې حلالولو ته بيايي.

زوئ ښۀ ما خو وئيل چې ګنې سکول ته ئې بيايي.

يو ټوقي په رېل ګاډۍ کښې د تلو اراده وکړه چې ګاډۍ ته ورسېد و څۀ ګوري چې ټول ګاډے د خلقو نه ډك دے ځاے په کښې بېخي نه شته. ټوقي غږ وکړو چې د نوح په کشتۍ کښې د هر ډول ځناور راغونډ شوي دي، په ګاډۍ کښې ناست يو مسافر ورته ووئيل: هو، يواځې د خرۀ ځاے لا باقي دے تاسو راشئ.

د رسالې خرڅولو والا: (هلك ته) هلكه! ته خو تل راځې رسالې آخوا دې خوا اړوې نو يوه رساله دې هم كله نۀ واخيسته.

هلك: واهه صاحبه! زۀ خو تل يوه نيمه وړم خو تا ته ئې ولې ونبيم[11, p48].

د ماشومانو دپاره د معلوماتو په لړ كښې د هيواد په حقله، د اسلامي معلوماتو په حقله او د نړيوالو معلوماتو په حقله هم ځاے په ځاے نثري ټوټې راځي او دغه برخه ئې هم د ارزښت په حقله ډېره اهمه ده. لكه:

د مسلمانانو ايجادونه: (1) ګز او تله: حضرت شعيب 1950 ق م. (2) زغره: حضرت داوډ 1004 ق م. (3) جېل خانه: معاويه بن ابوسفيان 661ء (4) كاغذ: يوسف بن عمر 702ء (5) شفاخانه: وليد بن عبدالمالك 707ء (6) نقشه: ابو القاسم بن طوسي 1420ء.

عام معلومات: (1) په دنيا كښې د ټولو نه لوئ ريډيو اسټېشن بي بي سي لندن دے. (2) په دنيا كښې د ټولو نه ښايسته بندرګاه سډني ده. (3) په نړۍ كښې د ټولو نه زوړ عمارت اهرام مصر دے. (4) د دنيا تر ټولو لويه يونيورسټۍ كيلي فورنيا ده[12, p64].

پايله: په مجموعي توګه دا ټول داسې معلومات دي چې په ماشومتوب كښې ئې لا ماشوم زده كړي بيا وروسته هم تر ډېره وخته كار وركوي. له دې پرته نور هم داسې د عبرت قيصې د وطن په اړه معلومات شامل دي. او ځينې داسې نقشې وركړل شوې دي چې د هغو نقشو په زور ماشوم يوۀ خاص ځاے ته ځان رسوي، دا نقشې د ماشومانو ډېر ارزښت لري او ورسره كله كله داسې خانې جوړې شوې وي چې له هغو خانو څخه ماشوم يوه ناڼې جوړوي يا نور داسې كارونه كوي چې په هغه سره د حساب كتاب او شمارياتو په اعتبار هم ابتدائي زده كړې ماشوم كولے شي.

# Bibliography


[1] Abu-al Khair Zaland, Za Tankai Ghutai Yam, Hafiz Kutab Khana, Quetta, 2010

[2] Ahmad Wali Achakzai, Da Pashto Hamanizuno ao Warta Lughatuno Qamoos. Pashto Academy, Quetta (2015)

[3] Abdus Shakoor Rishaad, Maktabi Qamoos. Pashto Academy, Quetta, 2015

[4] Sial Kakar, Da Kushniano Adab, Bolan Book Corporation, Quetta, 1979

[5] Rafiullah Niazi, Da Mashumano Adbiyaat, Da Maiwand Khparwandoya Tolany, Peshawar, 1389H

[6] Mir Hassan Khan Atal, Da Pashto Majallay Tehqeeqi ao Tanqeedi Serhana, Hewadzoi Serhana Markaz, Quetta, 2018

[7] Muhammad Jameel Johar, Da Bachiano Mehfil, Ulus, Quetta, December 1976

[8] Muhammad Jameel Johar, Da Bachiano Mehfil, Ulus, Quetta, September 1966

[9] Sarwar Sodai, Da Bachiano Mehfil, Ulus, Quetta, September 1976

[10] Ahmedullah Ahmed, Da Bachiano Mehfil, Ulus, Quetta, April 1967

[11] Editorial, Da Bachiano Mehfil, Ulus, Quetta, April 1967

[12] Editorial, Da Bachiano Mehfil, Ulus, Quetta, July 1966